عبدالباري جهاني ۲۰۱۹/۰٦/۲۷

# د افغانستان مسئـلـه

د عبدالباري جهاني ترجمه:

د ۱۸۷۸ کال د نومبر د میاشتي په وروستیو شپو ورځو کي، چي امیرشېرعلي خان د کابل پر تخت ناست وو، انګرېزانو، د دوهم ځل لپاره، پر افغانستان باندي یرغل وکړ. "تامس جورج بیرنګ" یا د ارل آف نارتبروک، چي له ۱۸۷۲ څخه تر ۱۸۷٦ پوري په هند کي د برتانیي د حکومت وایسرا وو، پر افغانستان باندي د انګرېزانو د دغه یرغل مخالف وو. هغه په لندن کي د ښاروالی په صالون کي، په یوه ماښامنی میلمستیا کي، چي نن سبا د انګلیس او افغان دوهم جنګ پیل کېدی، د دغه جنګ په باب یوه وینا وکړه. که څه هم چي له هغي زماني څخه څه کم یو نیم قرن تېر سوی دی، مګر څرنګه چي ما یې د هیڅ افغان لیکوال له خوا ترجمه نه ده لوستي نو لوستل یې، د افغانستان د تاریخ د شاګردانو او څېړونکو لپاره بې ګټي نه بولم. عبدلباری جهانی

××××××××××××××

د وینا متن: ... هغه بله ورځ زما څخه غوښتنه وسوه چي د هغه سیاسي مجلس ریاست وکړم چي د هند د روانو چارو په باب را بلل سوی دی، مګر ما ونه منله. ښاغلی ښاروال! نو زه به اطمینان درکړم چي نن ماښام به هم په دي غیرګوندي غونډه کي د افغانستان له مسلي څخه د راولاړو سویو ستونزو په باب داسي څه ونه وایم چي ستاسي د نن ماښام فضا خړه کړي.

بهترین کار به داوي چي زه یو ځل له هغه هیواد سره، چي له بده مرغه موږ د جنګ پولي ته ورسره رسېدلي یو، د برتانیي د سیاسي اړېکو یوه لنډه تاریخچه درته وړاندي کړم.

دا به په یادولو نه ارزي چي زه ووایم چي نیژدي څلوېښت کاله مخکي، په افغانستان کي د روسانو د مداخلي او دسیسو څخه یوې نامعقولي ویري، موږ له افغانستان سره په یوه غیر عادلانه جنګ کي را ګیر کړو. او له سختو تباهیو څخه وروسته، زموږ زړه ورو پوځیانو او د جنرالانو کلک عزم د برتانیي پوځیان بیرته بریالي وښودل. په ۱۸۴۲ کال کي، موږ تر دي کار وروسته، بیرته هند ته پرشا سولو. په هغه وخت کي د کابل واکمن امیردوست محمد وو. لږ وخت وروسته موږ له هغه زړه وردښمن سره، چي جنګ مو ورسره کړی وو، بیرته دوستان سولو. دا دوستي اصلا د سرجان لارنس د هغي موافقي په وسیله، چي له دوست محمد او د هغه له ځای ناستو سره یې لاسلیک کړه، ترلاسه سوه. موږ له هغه سره موافقه وکړه چي د ده د خاوري د تمامیت درناوی به کوو او هیڅ وخت به بیا د هغه په داخلي چارو کي مداخله نه کوو. دا تړون، چي اوس هم موجود دی، په ۱۸۵۵ کال کي لاسلیک سو. موږ وروسته، د ایران سره د جنګ په وخت کي، دوست محمد ته کلنی سبسیډي هم ورکړه او د هغي پالیسی نتیجه دا سوه چي دوست محمد، د هند د ښورښ په وخت کي، پر خپل قول ټینګ ودرېدی او زموږ د پولو کراری

ته يي خطر پېښ نه کړ. دوست محمد په ۱۸۶۳ کال کي وفات سو؛ او پنځه کاله د هغه د زامنو ترمنځ د تخت د نيولو پرسر داخلي جنګونه پيل سول. په دې ټولو کلونو کي، سرجان لارنس، چي له دوست محمدسره يې ترون لاسليک کړی وو،په هند کي ګورنرجنرال وو. هغه له ډېري هوښياری څخه کار واخيست او د افغانستان په داخلي جنګونو کي يې هيڅ مداخله ونه کړه. او تل به يې ويل چي هر څوک چي د افغانستان قدرت په لاس کي ولري برتانيه به يې په رسميت پېژني. ښاغلی ښاروال! موږ په دې وروستيو شپږو ورځو کي د « هوښياري بېحرکتي يا ماسټرلي اين اکتيويټي» په باب ډېري زياتي خبري اورو. ښايي ستاسي لپاره دا په زړه پوري وي چي دا اصطلاح له کومه راغله؟ دا اصطلاح د هند يوه ځوان ملکي مامور په يوه مقاله کي، چي په ۱۸۶۹ کي يې په يوه مجله کي خپره کړه، رواج کړه. هغه مامور جان وايلي نومېدی او زه بايد په خواشيني سره ووايم چي د هغه مضمون له ليکلو او خپرولو څخه لږ وروسته وفات سو. ده د سر جان لارنس د پاليسی د تشريح کولو په ترڅ کي وويل چي د داخلي جنګ په وخت کي، سرجان لارنس د هوښياری بېحرکتی پاليسي غوره کړې وه. د ۱۸۶۸ راهيسي هغې پاليسی ته دغه نوم نه سو ورکولای. حتی پخپله ښاغلي وايلي چي د هوښياري بې حرکتی اصطلاح يې منځته راوړې وه، وروسته غوره سوي پاليسی ته د مضري يا شيطاني بې حرکتی نوم ورکړ. ده په خپل دوهم مضمون کي د لارډ لارنس او لارډ مايو له خوا غوره کړيو پاليسيو د تشريح کولو په ترڅ کي خپل دلايل هم وړاندي کړي دي.

چي بيرته تاريخ ته را وګرځو نن شېرعلي، د افغانستان اوسني امير په ۱۸۶۸ کي له خپلو ورونو څخه ميدان وګاټه او لارډ لارنس ته دا څرګنده سوه چي نور نو بايد د برتانيي حکومت له هغه سره نيژدې اړيکي وساتي او له هغه سره مرسته وکړي چي پر تخت باندي خپل ځان ټينګ کړي. دا پېښي هغه وخت منځته راغلي چي په برتانيه کي د صدراعظم ډيزرايلي تر مشری لاندي محافظه کار حکومت د چارو واګي په لاس کي لرلې؛ او سرسټافرډ نارتکوټ د هند لپاره د خارجه چارو وزير وو. البته لارډ مايو د لارډ لارنس پاليسي تعقيبوله. لارډ مايو، د ۱۸۶۹ کال په پسرلي کي ،د پنجاب په امباله کي، له شېرعلي سره وکتل؛ او داسي مراسم او تشريفات يې پر ځای کړل چي د يوه پاچا د هرکلي په وخت کي ترسره کيږي. کله چي لارډ مايو د شېرعلي ټولي غوښتني واورېدلې نو د هغه څه په باب يې چي ورکولای يې سوای او د هغه څه په باره کي چي ورکولو يې د ده د هيواد ګټو ته زيان رساوه فيصله وکړه.

څرنګه چي د لارډ مايو له پاليسی سره، په وروسته کي، مطبوعاتو ډېر زيات مخالفت کړی دی نو زه يې لازمه بولم چي د ده په خپلو الفاظو يې وړاندي کړم. هغه د ۱۸۶۹ کال د جولای پر لومړی نېټه وليکل« په داسي حال کي چي موږ امير ته وويل چي په هيڅ صورت کي بايد د برتانيي عسکر، د دې لپاره، د افغانستان خاوري ته داخل نه سي چي له امير سره، د ده په ښارونو کي، د ياغيانو په ځپلو کي مرسته وکړي. د هيڅ ټاکلي مودې لپاره به هغه ته مالي سبسيډي نه ورکوله کيږي. د هيڅ ډول نورو مرستو وعده نه ورسره کيږي. موږ له امير سره هيڅ داسي ترون نه سو لاسليک کولای چي موږ د ده او د ده د اولاد په رسميت پېژندلو مکلفوي. موږ تيار يو چي اوس حاضر امير د افغانستان د پاچا په حيث په رسميت وپېژنو. له هغه سره دوستانه اړيکي وساتو، د هغه شخصيت ته درناوی وکړو او د خپل وس سره سم هر ډول اخلاقي مرسته ورسره وکړو او پر دې برسېره موږ غواړو چي له امير سره مالي مرستي وکړو، وسلې او مهمات ورکړو، محلي صنعت کاران او ماهران ور واستوو او چي نوري هر ډول مر ستي لازمي وبولو هغه به ورسره وکړو.»

په دې اعلاميه کي درې شيان په توجه ارزي. لومړی دا چي لارډ مايو امير ته وويل چي هيڅ اروپايي صاحب منصب به، د ده د خوښي په خلاف، د هغه هيواد ته نه ننوزي.داسي ښکاري چي دا د افغانستان امير ته يو لوی امتياز ورکړه سوی دی؛ مګر د امير پلار دوست محمد پر دې خبره ټينګ ولاړ وو چي د ده هيواد ته به هيڅ برتانوی عسکر نه داخليږي. هغه په ۱۸۶۷ کال کي لارډ لارنس ته وويل که غواړې چي زموږ دوستي دوام وکړي نو برتانوی عسکر مه راباندي تحميلوه. په دې کي شک نسته چي شېرعلي ته د لارډ مايو د دغي ژمني اصلي علت هغه د دوست محمد خبره وه. له بلي خوا دا خبره څرګنده ده چي که د

افغانستان امیر زموږ سره ښې اړیکې ولري نو بیا هغه هیواد ته د برتانوي عسکرو لیږل اصلا بې ګټې کار دی. امیر تر دې نیژدې ورځو پورې د برتانیې یو محلي استازی په دربار کې ساتلی وو. بله خبره دا ده چې له شیرعلي سره هیڅ ډول تړون لاسلیک نه سو. داسې تړونونه چې امیر یې خوشاله کاوه او هغه غوښتل لومړی د خارجي یرغل په مقابل کې د هغه بې قید او شرطه ملاتړ وو. لارډ مایو د دغه راز تضمین ورکولو ځخه ډډه وکړه. د دې تضمین اغیزه به داوای چې شیرعلي به زموږ پر مرستو تکیه کولای او پر ګاونډیانو به یې بریدونه کولای او په هغه صورت کې به یې موږ د خپلو ګاونډیانو سره په جنګ اخته کولای. لارډ مایو امیر ته دا تضمین ورنه کړ چې که هغه د مرګ په وخت کې هر څوک د امیر په حیث وټاکی برتانیه به یې ملاتړ کوي. دوست محمد په ۱۸۵۷ کال کې لارډ لارنس ته مشوره ورکړې وه چې افغانان پرېږدي چې خپل اختلافات پخپله حل کړي او خپل تر منځ په خپله طریقه جنګونه وکړي. که موږ شیرعلي ته تضمین ورکړی وای چې د هغه د ځای ناستي ملاتړ به کوو نو بیا موږ مجبور وو چې د افغانستان په داخلي جنګونو کې برخه واخلو. دا هغه پرنسیپونه وه چې د هغو په اساس لارډ مایو په ۱۸۶۹ کال کې د شیرعلي سره خپله پالیسي وټاکله.

د پالیسی دغه پرنسیپونه چې د لیبرال حکومت په وخت کې رامنځته سوه اساس یې د محافظه کارانو د حکومت په وخت کې اېښودلو سوی وو او د هند لپاره خارجه وزیر سرسټافرډ نارتکوټ یې ښه هرکلی وکړ. لکه مخکې چې مې وویل، دا د ګوندونو موضوع نه ده؛ ځکه هغه پالیسي چې پیل سوې او عملي سوې ده نو له یوه حکومت ځخه بل ته او له یوه وایسرا ځخه بل ته پاته سوې ده.

زه په ۱۸۷۲ کال کې د لارډ مایو ځخه وروسته د هند ګورنرجنرال سوم. مګر زه د خپل ماموریت د وخت د اجرآتو په باره کې نه رږغېږم. زه د ښاغلي ګلیډستون او د لارډ بیکنزفیلډ د حکومتونو په وخت کې د خدمت افتخار لرم. په هغه وخت کې چې ما ځه پیغامونه لیکلي دي هغه پارلمان ته نه دي وړاندي سوي نو دا به ښځایه وي چې زه په دې باب د خپلو رسالو او مقالو په باب وږغېږم. زه دونه ویلای سم چې ما تر وسه وسه د لارډ مایو او لارډ لارنس پالیسی تعقیب کړې دي. دا په دې خاطر نه چې ما په پټو سترګو د خپلو اسلافو پالیسي تعقیبوله بلکه هغه پالیسی معقولې او سمې راته ښکارېدلې. د یوې مسلې په باب باید په زغرده وږغېږم چې هغه افغانستان ته د برتانوي پوځیانو د لېږلو موضوع ده. ما په ۱۸۷۳ کال کې د امیرشیرعلي صدراعظم ولیدی ( مطلب یې سیدنورمحمدشاه دی ج) او داسې احساس مې کاوه چې دا به ډېره ګټوره وي چې یو وخت د برتانیې پوځیان افغانستان ته واستول سي خصوصا په داسې وخت کې چې له سرحد ځخه داسې اطلاعات راتلل چې موږ ویل دا به د افغانستان په ګټه وي چې هغه هیواد ته برتانوي پوځیان واستول سي. ما د حکومت د خارجه چارو له سکرترځخه وغوښتل چې په دې موضوع کې له صدراعظم سره خبري وکړي او دا معلومه کړي چې که له شیرعلي ځخه وغوښتل سي چې په خپله خاوره کې برتانوي پوځیانو ته اجازه ورکړي هغه به یې ومني کنه. د شیرعلي صدراعظم، چې اوس وفات سوی دی، او زه دا نامناسبه نه بولم چې د هغه د عقایدو په باره کې وږغېږم، ماته د امیر شیرعلي د نظر په باره کې وویل. د یوه دوست په حیث درته وایم چې دا به د برتانیې د حکومت په ګټه نه وي چې د افغانستان په بېلو بېلو سیمو کې د خپلو عسکرو د اچولو پیشنهاد له امیر سره طرح کړي. دغه راز یوه غوښتنه که هر څومره په دوستانه فضاکي او دوستانه طریقه وسي امیر به یې ښه ونه وبولي او بې اعتمادي به پیدا کړي. د ده دلیل دا وو چې افغانان ناپوه خلک دي او فکر کوي چې هیواد ته یې د برتانوي استازو لېږل کېدل د اشغال پیلامه ده. ښاغلی ښاروال! زه اعتراف کوم چې د هغه دغه بدګوماني بې اساسه نه وه. د شیرعلي صدراعظم دغه راز وویل چې په کابل کې یوه غښتلې ډله ده چې له برتانیې سره د امیر د نیژدې اړیکو سره مخالفت کوي. له دې ځخه لږ وروسته موږ د افغانستان له حکومت ځخه وغوښتل چې که سرډاګلاس فورسیت ته اجازه ورکړي چې له کاشغر ځخه د افغانستان له لارې هند ته ستون سي. امیر له یو ځه ځنډ ځخه وروسته وویل چې هغه ته دا اجازه نه سي ورکولای ځکه چې ډېر لږ مخکې یو برتانوی صاحب منصب جګړن مک ډانلډ په سرحد کې ویشتل سوی او وژل سوی وو او دی په افغانستان کې د برتانوي افسرانو د ساتني ذمه نه سي وهلای. ما ځانته دا حق نه ورکاوه چې په دې مسله کې زیات ټینګار وکړم اود لارډ مایو دا خبره مې په غوږ کې وه چې د امیر

له خوښي پرته باید افغانستان ته د برتانوي پوځیانو پر استولو باندي ټینګار ونه سي او پردې خبري غور وسي چي د برتانیي د حکومت د غوښتني په نه منلو سره د برتانیې حکومت ته سپکاوی سوی دی؟

له ۱۸۷۶ کال څخه چي زه انګلینډ ته راغلی یم نو د هند په پیښو چنداني خبر نه یم. تېر کال ما په همدغه صالون کي وویل چي زه د افغانستان په باب پالیسی څخه اندېښنه لرم مګر کله چي په ۱۸۷۷ کال کي لارډ سالیزبوري او سرستافورنارتکوټ پارلمان ته اطمینان ورکړ نو زما اندېښنه هم لیري سوه. مګر زه باید ووایم چي زما اندېښنه اوس ځکه موجوده ده چي د ۱۸۷۶ کال راهیسي په پالیسي کي ډېر تغییرا راغلی دی.زه پوهېږم چي د ۱۸۷۷ کال په سر کي د کابل له امیر سره مذاکرات وسول او د هغه په دربار کي د برتانیې محلي استازی وروسته له درباره څخه را وغوښتل سو. نوري هم داسي خبري سته چي د اطلاعاتو سره سر نه خوري او د هغو اطمینانونو سره چي په ۱۸۷۷ کال کي پارلمان ته ورکړه سوي وه نه لګیږي. دا داسي موضوع ده چي دلته بحث نه سي باندي کېدلای او تر څو چي پارلمان ته بشپړ معلومات نه وي ورکړه سوی سړی څه نه سي باندي ویلای.

خبري په دغه طریقه رواني وې تر څو چي له افغانستان سره اوسنی ستونزي را پیدا سوې. زه ضرورت نه لرم چي پر هغو موضوعاتو باندي وړغیږم چي اوسنی خطرناک حالت یې منځته راوستلی دی. موږ د آکسټ پر دیارلسمه واورېدله چي د جولای پر دوه ویشتمه د روسیي یو هیات کابل ته تللی دی او حکومت فیصله کړې ده چي امیر ته یو برتانوی هیات واستوي. وایسرا امیر ته لیکونه لېږلي دي چي د سپټمبر پر لسمه کابل ته رسېدلي دي او په هغو کي یې لیکلي دي چي د برتانیي هیات ته اجازه ورکړي چي کابل ته ورسي. پرته له دې چي د هیات د استولو په برخه کي د امیر جواب ته انتظار وباسي هیات یې روان کړی وو. په خیبر کي، د امیر افسرانو، د سپټمبر پر یوویشتمه، د برتانیي هیات ته د مخکي تللو اجازه ورنه کړه. په لومړي سر کي وویل سوه چي هغه صاحب، چي د هیات څخه مخکي د خیبر درې ته ورغلی وو، د امیر د افسرانو له خوا سخت سپک سوی دی. مګر زه خوشاله یم چي دا اطلاع غلطه وختله او معلومه سوه چي په خیبر کي د امیر افسرانو له برتانوي هیات سره ډېر مدني او انساني سلوک کړی وو. هغه د برتانیي هیات ته صرف دونه ویلي وه چي هیات ته د مخکي تللو د اجازې په برخه کي امر نه دی ورته سوی او ورته ویلي یې دي چي تر هغو پوري چي په دې برخه کي امر ورته رسیږي معطل دي سي. هیات شاته وګرځېدي او د برتانیي قواوي د افغانستان سرحداتو ته واستول سوې. محلي استازي، چي د وایسرا لیکونه یې امیر ته وړي وه، د اکتوبر پر شپږ ویشتمه، د امیر له جواب سره، سیملې ته ورسېدی. حکومت فیصله وکړه چي نور نو نه کیږي او باید چي امیر ته یو اولتیماتوم ورکړه سي. اولتیماتوم یې د خپل یوه صاحب په لاس، د نومبر پر دوهمه ورکړ او موږ ته اطلاع رسېدلي ده چي که امیر دغه اولتیماتوم رد کړ نو د دې میاشتي پر شلمه به جنګ پیل کیږي.

ډېرو کسانو زما څخه پوښتنه کړې ده چي زه د دې موضوع په باب څه فکر کوم. له افغانستان سره جنګ وسي که ونه سي؟ او آیا زما په نظر له افغانستان سره جنګ کوم منطقي او قانوني دلیل لري کنه. زه فقط دونه ویلای سم چي زما لپاره اوس دا غیر ممکنه ده چي دغو سوالونو ته جواب ورکړم. ځکه زه نه پوهېږم چي هیات ته څه ډول هدایتونه ورکړه سوي وه. زه نه پوهېږم چي شېرعلي وایسرا ته څه جواب ورکړی دی. او زه د اولتیماتوم په شرایطو نه یم خبر. په داسي حالاتو کي زه نظر نه سم ورکولای چي د جنګ علت عادلانه دی کنه او ایا موږ جنګ پیل کړو او کنه.

مګر سره له هغه چي زه د اطلاعاتو د نه لرلو له امله څه نه سم ویلای مګر په دې باره کي یو څو خبري کولای سم چي دا څه پېښه سوه. زه په دې ښه خبر یم چي تر ۱۸۷۴ کال پوري د افغانستان په باب د روسیي او برتانیي تر منځ څه پېښ سوي دي. په دې باره کي هیڅ خبره پټه نه ده او پارلمان ته ټول کاغذونه رسېدلي دي. د روسیي حکومت د افغانستان د سرحداتو په برخه کي زموږ سره موافقه کړې ده. دوی زموږ سره موافقه وکړه چي دوی به د افغانستان په سرحد کي خپل ټول وس تمام کړي څو د افغانستان پر سر حد باندي پراته هیوادونه پر افغانستان باندي له حملي کولو څخه را وګرځوي. او موږ موافقه وکړه چي افغانستان به پرې نه ږدو چي د روسیي په خوا سرحداتو کي پرتو هیوادونو باندي حمله وکړي. د روسیي حکومت یو بل کار هم کړی

دی. څو ځله يې موږ ته ويلي دي چې افغانستان د دوی د نفوذ له ساحې څخه بهر دی او د مرکزي اسيا په څېر پرمختګ نه يکښې کوي. زه په بشپړ باور درته ويلای سم چې تر هغه وخته پورې چې زه په هند کې وم دوی له دغو موافقو څخه سرغړونه نه ده کړې. په هغه وخت کې د دوست محمد د کورنۍ يوه ناراض غړي ( مطلب يې عبدالرحمن خان دی ج ) د روسيې تر حمايې لاندې ژوند کاوه. دغه سړي ته هيڅ اجازه ورنه کړه سوه چې افغانستان ته ستونزې پيدا کړي. نور وختونه، د روسيې حکومت ښودلې ده چې دوی د افغانستان په مسله کې د سرغړونو آرزو نه لري.

په لومړي سر کې داسې ښکاري چې روسانو کابل ته د هيات په لېږلو سره خپلې وعدې ماتې کړې دي؛ مګر موږ بايد په دې موضوع کې انصاف وکړو او دا بايد را په زړه کړو چې د هغه کال په پسرلي کې موږ له روسانو سره د جنګ پولې ته رسېدلي وو. داسې فکر کېدی چې روسان به د اروپايي قدرتونو غونډې ته د سان ستيفانو د تړون مواد ونه سپاري. موږ ټول پوهېږو چې برتانيې د روسانو د دې سلوک په مقابل کې ډېر کلک دريځ ونيوی. موږ مالټا ته هندي پوځيان واستول او په هغه وخت کې په حقيقت کې د جنګ او سولې سوال په يوه وېښته معطل وو. زه ويلای سم چې که چيرې موږ مالټا ته د پوځيانو د لېږلو حق ځانته ورکاوه نو روسانو هم حق درلودی چې په اسيا کې د خپلو ګټو د ساتلو لپاره په اقداماتو لاس پورې کړي. زه د وضع په باره کې دغه نظر ورکوم او زه فکر کوم چې دا يو طبيعي او پر ځای نظر دی. روسانو له دغه امله په روان کال کې په ترکستان کې پوځي حرکات پيل کړل او افغانستان ته يې هيات واستاوه.

ما په ورځپاڼو کې لوستي دي چې روسانو، افغانستان ته، دغه هيات د جولای پر ديارلسمه د برلين د تړون د لاسليک کېدلو په ورځ واستاوه او دا زموږ سره د روسانو د حکومت د دښمنۍ ثبوت دی. دا وينا ډېره ژر ردېدلای سي. د روسانو هيات کابل ته د جولای پر دوه ويشتمه ورسېدی. له سمرقند څخه، چې دغه هيات روان سوی وو، تر کابل پورې شپږ سوه ميله فاصله ده. د روسانو هيات نه سوای کولای چې دا فاصله تر يوې مياشتې په کمه موده کې ووهي. ځکه نو دا ممکنه نه ده چې د روسانو يو هيات دې د جولای پر ديارلسمه له سمرقند څخه روان سوی او کابل ته دې د جولای پر دوه ويشتمه رسېدلی وي.

زه ګومان کوم چې د برتانيې حکومت بايد، د سولې د ساتلو په منظور، په دغه مسله کې له روسانو سره ډيپلوماتيک اړيکې ټينګ کړي وای او د روسيې د حکومت د نيت په باب يې پوښتنه کړې وای. دا يې معلومه کړې وای چې روسان پر خپله هغه پخوانۍ وعده ولاړ دي کنه چې ويل يې د افغانستان په چارو کې به هيڅ ډول مداخله نه کوي که څنګه او په دې اړه يې راتلونکې پاليسي څه ده. زموږ حکومت دغه حق درلود او زما ګومان دا دی چې حکومت دغه کار کړی هم دی. موږ اوس نه پوهېږو چې په دې اړه څه سوي دي؛ د پارلمان د غونډې له ختمېدلو څخه مخکې د مکتوبونو وعده وسوه او زه فکر کوم چې دا مکتوبونه به هم ډېر ژر څرګند سي.

د روسانو د سلوک او د افغانستان د امير په باب زه ويلای سم چې که چې زه د هند ګورنرجنرال وای او شېرعلي، پرته له دې چې برتانيې ته اطلاع ورکړي، د روسانو يو هيات په کابل کې منلی وای نو ما به ورته ويلي وای چې دا يې غير دوستانه عمل کړی دی. مګر موږ بايد کابل ته د دغه هيات د رسېدلو څخه مخکې شرايط يو ځل په نظر کې ونيسو. د امير لپاره دا ممکنه نه وه چې د برتانيې حکومت ته خبر ورکړي ځکه چې برتانيې خپل محلي مامور د امير له دربار څخه وربللی وو. موږ پوهېږو چې امير کوښښ وکړ چې روسی هيات کابل ته له ورتللو څخه منع کړي. دا خبره له هند څخه په مکاتبو کې څرګنده سوې ده او زه په هغو ليکونو باور لرم. موږ هيڅ داسې شواهد نه لرو چې امير دې له روسانو سره د برتانيې پر ضد کوم تړون کړی وي. زه په افغانستان کې د روسانو له دسيسې څخه هيڅ وېره نلرم. تر هغه ځايه چې زه پوهېږم او يا مې هر وخت اورېدلي دي هغه دا حقيقت دی چې د افغانستان امير او خلک يې غواړي چې خپل استقلال وساتي او هيڅ يو په خپلو داخلي چارو کې نه د انګليند او نه د روسيې مداخله غواړي. کله چې زه له هند څخه روانېدلم نو ماته دا يوه خبره دلمر په څېر روښانه وه چې امير په خپلو

داخلي چارو کي تر برتانيي د روسانو مداخله بده مني. زه فکرکوم چي په افغانستان کي د روسانو حضور به په هغه هيواد کي د خلکو د استقلال روحيه غښتلي کړي او هرڅونه چي دوی په افغانستان کي زيات پاته سي په هغه اندازه به يي هلته نفوذ کم سي.

مګر کله چي د امير شېرعلي د سلوک په باره کي خبري کوو نو زه بايد په ډېره خواشيني سره ووايم چي په مطبوعاتو کي هغه ته سم او ښه انعکاس نه دی ورکړه سوی؛ زه فکر کوم چي موږ بايد په دې مسله کي د هغه حق او دريځ په نظر کي ونيسو. او زه له دې امله ډېر خواشينی يم چي د سرفيتزجېمز ستيفن په څېر يو مشهورقانون پوه او آزادا خياله مدافع وکيل په دي باب داسي يو نظر وړاندي کړی دی چي زه په هيڅ توګه موافقه نه سم ورسره کولای. فيتزجېمزستيفن استدلال کوي چي« د بين المللي قوانينو په اصولو کي له شېرعلي سره زموږ د سلوک په باب هيڅ شی نه دي راغلي. داسي قانون نسته چي د هغه په اساس دي زموږ او د شېرعلي تر منځ قضيه فيصله سي. موږ ډېر زيات قوت لرو او ډېر متمدن يو او هغه نسبتا کمزوری او نيم وحشي دی. هغه ته بايد دا اجازه ورنه کړه سي چي داسي پاليسي تعقيب کړي چي موږ ته خطر پېښ کړي. موږ بايد د قضيي قاضيان و اوسېږو او دا موږ يو چي د خپلو ګټو سره سمه به فيصله کوو.» ما تاسي ته د سرفيتزجېمز ستيفن خپل الفاظ تکرار کړل ځکه زه نه غواړم چي د هغه ناسمه استازولي وکړم. دهغه دغه استدلال او نظريه موږ چيري وړي؟ د دي معنی دا ده چي هر متمدن هيواد به پر غير متمدن او کمزوري هيواد باندي د حملي کولو حق ولري؛ قضاوت به يي په خپل لاس کي وي او چي څه يي زړه غواړي هغه به کوي او بالاخره به خبره داوي چي زورحق دی. دا اصول به د پولينډ ويشل توجيه کړي او د روسانو په مقابل کي به د هغوی د کلونو چيغي چي د استقلال لپاره يي وهلي دي بې نتيجي کړي.زه يقين لرم چي سرفيتزجيمز ستيفن د خپلو خبرو په باره کي چنداني غور ندی کړی او د ده دا نظريه بايد په دې هيوادکي دحق طرفدارو انسانانو وجدان ته ټکان ورکړي .

مګر زه په دې خوشاله يم چي دا نظريه په اساس کي نامعقوله ده. ماته داسي ښکاري چي سرفيتزجيمزستيفن د ملتونو رسمي قانون چي په اروپايی هيوادونو اړه لري او پر اسيايی هيوادونو باندي، له هيڅ اړخه، نه تطبيقيږي د بين المللي قانون له هغواساسي اصولو سره ګډ کړی دی چي د هغه په اساس لوی مسايل لکه دغه يا هغه جنګ منطقي او موجه دی کنه ثابتيږي. د بين المللی قانون دغه اساسي اصول د اخلاقو پر اصولو باندي جوړ سوي دي او د بيکن په قول د عدالت له چينو څخه اوبيږي. دا قوانين نه يوازي عيسوي قانون پوهانو او واکمنانو ته د منلو وړ دي بلکه په ډېرو پخوا زمانو کي د بت پرستانو قانون پوهانو او واکمنانو ته هم د منلو وړ وه. ځينو حاضرينو ته به ښايی د سيسرو هغه څرګند حکم معلوم وي چي که اجازه راکړی زه يي پخپله ژبه درته ووايم چي: د قانون دا اساسات په هيڅ زمان او مکان پوري محدود نه دي. پارلمانونه او د اولسونو نظريات هغه ته تغيير نه سي ورکولای. دا قوانين پرون په روم کي او نن په اينګليند کي اعتبار لري او دا قوانين لکه پرون چي په برلين کي نافذ وه نن په کابل کي نافذ دي او اعتبار لري.

دا نوی نظر لکه په سياسي لحاظ چي کمزوری دی په هغه اندازه غير معقول هم دی. سرجيمز ماسينتوش وايی عدالت د ټولو خلکو او ټولنو تر ټولو مهمه غوښتنه ده. او د سرفيتزجيمز ستيفن په څېر نظريات نه يوازي په هر ځای کي خطرناک دي بلکه همدا اوس په هند کي هم خطرناک دي. موږ په هند کي له بومي حکومتونو سره هره ورځ په تماس کي يو. دا حکومتونه که څه هم کمزوري دي او ځيني يي نيمه متمدن دي. موږ دغه راز د داسي بومي حکومتونو سره سروکار لرو چي بشپړه خپلواکي نه لري مګر محدودي خودمختاری لري او له برتانيي سره محدود تړونونه لري، او دا قوانين او تړونونه له هغه وخته چي د ډهلي امپراطورانو پر ټول هندوستان باندي حکمراني کوله رواج لري. ملکي د ۱۸۵۸ د نومبر پر لومړی نېټه د هند د واکمنی له اعلان سره سم دغو حکومتونوته خپل محدود اختيارات او خودمختاري ورکړه. ښاغلی ښاروال! هند ته له تللو څخه مخکي مي په دغه صالون کي په يوه لوی محفل کي برخه درلوده او په هغه کي د ملکي د اعلاميي متن ولوستل سو. اجازه راکړی چي يوه برخه يي درته ولولم. علياحضرتي ملکي وويل:- « موږ د هند محلي شهزاده ګانو او واکمنانو ته اعلان کوو چي موږ ټول هغه تړونونه چي له دوی سره د شرق الهند کمپنی کړي او يا د هغوی په اجازه سوي دي او موږ منلي دي په پوره احتياط رعايت

کوو او په دې برخه کې له دوی څخه هم دا انتظار لرو چې تړونونه رعایت کړي. موږ د خپل قلمرو د پراخولو آرزو نه لرو. دغه راز به هیڅا ته اجازه ورنه کړو چې زموږ تر لاس لاندې ځایونو او حقوقو باندې تېری وکړي او فکر وکړي چې د عمل سزا به ونه ویني. موږ به د هغوی پر قلمرو باندې د هیڅ قسم تېري اجازه ورنه کړو. موږ به د محلي واکمنانو حقوق او حیثیت خپل حیثیت او عزت بولو.» که موږ هغه پرنسیپونه چې ما وړاندې کړل ځو د هغو په اساس د محلي دولتونو سره په عدالت سلوک وکړو، پخپله رعایت نه کړو او تغییر پکښې راولو نو موږ به خپل ټول تړونونه فسخ کوو او په دې توګه به هر څوک ناراض او شکمن کوو او ډېر ژر به د هند د محلي واکمنانو په زړونو کې د وفاداری او اعتماد ځای نارضاییت ونیسی. زه د داسي یوه چا په حیث چې د ملکې په پاچهي کې یې په یوه له ترټولو مهم قلمرو کې تر ټولو پر مهم مقام باندې وظیفه سرته رسولې ده وظیفه لرم چې بر هر داسي نظر او دوکتورین باندې اعتراض وکړم چې د ملکې له اعلامیې سره مغایرت ولري. زه یقین لرم چې که دغه راز نظریات کله په پارلمان کې مطرح سي نو د علیاحضرتي ملکې د وزیرانو له لوري به په کلکه رد سي.

یوه بله موضوع هم ده چې زه غواړم پر هغه باندې یو څه خبرې وکړم. زه په دې خبره تر بل هر چا زیات خوشاله سوم چې لارډ بیکنزفیلډ، د شنبې په ورځ، په خپل کور کې، اعلان وکړ چې هغه په دې عقیده نه دی چې پر هند باندې د روسانو د یرغل کولو خطر موجود دی. که څه هم چې ده زموږ د شمال لوېدیځ سرحد د بهترولو او تقویه کولو غوښتنه وکړه. د شمال لوېدیځې پولې د تقویه کولو او بهترولو په برخه کې د علیاحضرتي ملکې وزیرانو کوم مشخص پیشنهاد نه دی کړی نو زه غواړم په دې برخه کې یوه خبره وکړم چې هغه د ګوندي سیاست سره اړه نه لري. زه فکر کوم چې د شمال لوېدیځ سرحد د تقویه کولو مطلب د خان قلات په قلمرو کې د کوټې دایمي اشغال دی چې له هند څخه د بولان د درې پر هغه بله غاړه پروت ښار دی. پدې برخه کې غواړم ووایم چې په ۱۸۷۶ کال کې د خان قلات او د قومي مشرانو ترمنځ د ځینو را پورته سویو جنجالونو د حلولو مسوولیت ماته را سپارل سوی وو. زه باید دا ووایم چې ما په هغه وخت کې دکوټې دایمي اشغال لازم ونه وباله او تېرکال مې د مشرانو په جرګه کې په دغه باب دخپل نظر دفاع هم وکړه. خو اوس کوټه اشغال سوې ده. ددې مسلې په سیاسي اهمیت کې هیڅ شک نسته. دکوټې په ګاونډ کې اوسېدونکي قبایل زموږ سره دښمني نکوي او اوس ښایي دهغه ښار د اشغال لپاره دلیل موجود وي.

مګر د شمال مغربي سرحد د تقویه کولو لپاره نور پیشنهادونه هم وړاندې سوي دي چې زه په بشپړه توګه ورسره مخالف یم. سر هینري هیولاک، چې د قدر وړ خدمتونه یې کړي او نور یې هم خپل نوم لوړ کړی دی، او اوس په پارلمان کې د لیبرال ګوند غړی دی، توصیه کړې ده چې موږ باید په پېښور کې خپل اوسنی دریځ پرېږدو او د خیبر د درې هغه بلې خواته پر مخ ولاړ سو. ما په مطبوعاتو کې دغه راز نوري توصیې هم لیدلي دي چې وایي موږ باید نور هم پر مخ ولاړ سو او د هندوکش د غرو لمنو ته ځانونه ورسوو. دا هم ویل کیږي چې عالي رتبه پوځي مقامات په دې باب غور کوي چې زموږ موجودیت، اوس حاضر، تر هغه وخته ښه مصوون نه دی تر څو مو د سرحد له اوسنیو غرونو هغه بلې خواته ځانونه رسولي نه وي. زه فکر کوم چې دې کسانو نه د هغه هیواد د مځکي اندازه په نظر کې نیولې ده او نه یې د هغو خلکو فطرت او طبیعت ته توجه کړې ده. هر څوک چې یو ځل نقشې ته وګوري، یوازې فاصلې نه بلکه د افغانستان غرونه په نظر کې ونیسي او دې ته وګوري چې هغه هیواد تر سیویس زرلینډ غټ او پراخ دی نو دا به ووایي چې که دا نظریه سمه وي نو بیا موږ د هندوکش له غرونو سره تمېدلای نه سو او باید چې تر هغه هم ور واوړو او تر څومو ټول افغانستان تر کنټرول لاندې کړی نه وي تم نه سو. زما په عقیده، زموږ اوسني سرحدونه، د دفاع لپاره ښځي سم دي او د افغانستان پر لور پرمختګ به ډېر نامعقول اقدام وي. موږ چې دغه کړی له سرحد سره څه ستونزې لرلې دي هغه مو له هغو مستقلو قبایلو سره درلودلي دي چې د سرحد سره نیژدې اوسیږي. که موږ مخته ځو نو باید چې له نورو قبایلو سره مخامخ سو او بیا به هماغه ستونزې لرو چې تر اوسه مو درلودلي دي. تر ټولو څرګند حقیقت چې زه یې باید درته ووایم هغه ستونزې دي چې موږ د پېښور او کوهاټ ترمنځ، چې نسبتا لنډه فاصله ده، په پرتو قبایلو کې فقط له یوې قبیلې سره درلودلي دي. زه چې له هند څخه روانېدلم له دغې قبیلې څخه مو د لارو د جوړولو او بهترولو

غوښتنه وکړه. قبیلي مقاومت وکړ او موږ مجبور سولو چي یوه اته زره کسیزه قوه ور ولیږو. پوځي عملیات، که څه هم ډېر ښه او بریالي وه مګر یو کال وخت یې ونیوی، چي بالاخره هغه قبیله تسلیمېدلو ته مجبوره سوه.

صدراعظم هغه بله شپه وویل چي « په هند او اینګلینډ کي د وایسراګانو او حکومتونو ډېره زیاته توجه د هند د شمال لوېدیځ سرحد د ستونزي خواته اوښتي ده» زه چي په هند کي ګورنرجنرال وم خبره دا سي نه وه. په هند کي زما د څلور کلن حکومت په زمانه کي،زما پوځي سلاکارانو، د ماګدالا لارډ ناپایر او سرهنري نورمن، چي تر هیچا پاته نه دی، هیڅ وخت د هند حکومت ته دا پیشنهاد نه دی کړی چي شمال لوېدیځ سرحد بهترېدلو ته ضرورت لري. زه په بشپړ صلاحیت ویلای سم چي د لارډ مایو د حکومت په وخت کي هم دغه ډول پیشنهادونه نه دي وړاندي سوي؛ البته د لارډ لارنس د حکومت په زمانه کي، په ۱۸۶۷ او ۱۸۶۸ کلونو کي څو ځله د شمال لوېدیځ سرحد د بهترولو په باب پیشنهادونه سوي دي. که په دغه موضوع کي د سرویلیم مانسفیلډ او سر هینري ډیورنډ نظریات را منځته سي نو زه به د هغو په توضیح کولو او تشریح کولو کي ډېره مرسته وکړم. د هند حکومت په هغه وخت کي د مسلي په باب دغه نظر ورکړی وو « موږ له خپل سرحد څخه هاخواته، د قوي په زور او نورو سوله ایزو طریقو، د افغانستان د خاوري له یوې برخي او یوې پوستي له اشغال سره مخالف یو؛ ځکه چي موږ فکر کوو دغه راز یو اقدام به، په اوسنی وضع کي، نه په حمله او نه په دفاع کي زموږ متي را غښتلي کړي بلکه د افغانانو دښمني، نفرت او سرکښي به زیاته کړي.

زه په نتیجه کي دا باورلرم چي له افغانستان سره باید هیڅ وخت جګړه ونه کړو. او زه یقین لرم چي دا باید حتی د هغو کسانو لپاره چي د سرحد د تقویه کولو نظر لري هم معقول کار او آرزو وي. هیڅوک باید دونه بې عقل نه سي چي دا آرزو وکړي چي زموږ سرحد د جنګ په وسیله تقویه کړي او په نتیجه کي هغه خلک راسره دښمنان کړي چي زموږ پراخېدونکی پوځي سرحد به د هغوی په خاوره کي پروت وي.

ښاغلی ښاروال! زه ویلای سم چي په اوسنی وضع کي لرترلره یوه روښنایی لیده کیږي. زما مطلب د هغو پوځیانو قوي روحیات دي چي په هند کي پراته دي. موږ پوهیږو چي په هر ځای کي چي زموږ د هیواد د تخت او تاج د حیثیت مسله طرح سوې ده، زموږ پوځ عالي روحیه ښودلي ده او د هند بومي اوسېدونکو پوځیانو هم دریغ نه دی کړی. پر دغو پوځیانو چي کله مالتیا ته د تللو ړغ وسواو چي کله په دغه اوسنی وضع کي ړغ ورباندي سوی دی نو عالي روحیه یې ښودلي او د هند محلي واکمنانو هم دغه ورته روحیه ښودلي ده. که دا جنګ پیل سي نو دا به په مالي لحاظ ډېر ګران پرېوزي. د افغانستان د تېر جنګ مالي لګښت اووه لس میلیونه پونډه وو. د راتلونکي جنګ مالي لګښت باید د هند خلک پرې کړي. هند، په تېره بیا له تازه قحطی څخه وروسته، له سختي غریبی سره لاس و ګرېوان دی او د دې جنګ د مالي بوج توان نه سي راوړلای. که څه هم چي د مالي لګښت او د هند د خلکو د غریبی خبره هم ډېره مهمه ده خو تر دې مهمه دا ده چي دا جنګ عادلانه دی کنه او باید چي وسي او کنه. زه، له بده مرغه ، د دې سوالونو جواب نه سم درکولای؛ ځکه چي په دې باب اطلاعات خپاره سوي نه دي او سړی نه سي کولای چي خپله عقیده په محکمه او څرګنده توګه ښکاره کړي.

The Afghan Question.
Speech of the Earl of Northbrook
In the
Guildhall, Winchester. On the ۱۱th November ۱۸۷۸
London: National Press Agency, Limited.

د افغانستان مسئـلـه
jahani_a_b_de_afghanistan_masala.pdf